شهسوارسنګروال

۲۰۲۴/۰۳/۰۳

یوه نوې لړۍ:

# ښکلاپوهنه

# (ESTHETICS)

## لومړی ښپرکی

## ښکلاپوهنه د فلسفې په لمنه کې

بیړنۍ یادونه:

د یوې سریزې په پلمه باید یادونه وکړم،چې دښکلا پوهنې په اړه نه یوازې په افغانستان کې لیکنې نه دي شوې ( که شوې هم دي ، تتې اوپه نشت حساب دي )،بلکې په نړۍ کې هم زما دمعلوماتو له مخې دخومره والي اوځرنګوالي له مخې لکه چې په نوروبیلابیلو علوموکې بې شمېره کتابونه کښل شوي دي،په ښکلا پوهنه کې دنورو علومو په پرتله، غوښنې ښپړنې اولیکنې نه دي شوې.

داستیتکس esthetics په اړه تر یوه بریده یوڅه لیکنې اوڅېړنې شویدي،خوبیا هم په تېرې خبرې تینګار کووم،هغومره هم نه ،چې په پرتلیزه توګه دپام وړ وګرځي.

په افغانستان کې دګوتوپه شمېرلیکوالودمقالواور سالوپه کچه یوه څه تتې کښنې اولیکنې کړې دي ،چې بیا هم دغه ̃هڅې دېړې ستاینې وړ دي ، خوداپوه خبره باید هېره نه کړو، چې دغه بحث ډېر پیچلی هم دی.

زه فیلسوف نه یم،خودفلسفې پا نې مې اړولې دي ، زه هنرمند نه یم ، خوشاعر یم،دښکلا وجوداوحدودپه ګوته کولی شم.

ما په دې اړه خپله هڅه وکړه ، داچې څومره به مې په دې لیکنه کې ددرنو لوستونکوحق ادا کړی وي نشم ویلی ، خوداخبره په ځغرده کولی شم ، چې په دې برخه کې مې ډېرې هڅې کړې اوخپل ځان مې ښه دپرستړی کړیدی ، په دې هیله چې درنولوستونکوته په زړه پورې سي.

په ډېر درناوي او درنښت شهسوار سنګروال
لندن

د تولنیزو او طبعي پوهنو مور فلسفه چې د خپلې پوهې په انګر کې وتوکېده او په مزه مزه وغوړېده، څانګې او نوتې وکړې او دومره ګکره شوه، چې، لښتو، څانګو او ذنبق ذنبق ښاخونو یې د فلسفې له انګړه وررو خپلې پینې سپکولې.
ترهغې چې د فلسفې لمنه ترخوکوډکه شوه، خپلو توکو ترې لاره وکړه او هغې ګلونې ته ورته شوه، چې د لمر له ځرک سره ترې لپې لپې پرخې وڅڅېدې.
فلسفه د انساني پوهې لومړنۍ ګام دی، انسان د خپل ذات او انسان پېژندنې هڅه وکړه، تولپوهنې او تولنپوهنې ته یې لاره پرانسته.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

انسان پوه شو چې انسان ښکلی دی، ټولنیز ارزښتونه ښکلي دي، طبیعت ښکلی دی او د خپلې رنګینۍ دب دبه یې زړه راښکوونکې ده.
انسان لومړنۍ هڅې له انسانه پیل کړې او په انساني چاپېریال کې د ښکلا پېژندنې تکل وکړ ... د دغو هڅو خبره په پای کې دېته ورسېده، که یو مهال د فلسفې په غېږه کې د لومړنیو ټولنو ټولې ټولنیزې هڅې ځاییدې ، خو کله چې ټولنیزو پرمختګونو پراختیا وموندہ، نو بیا ورورو دغو پرمختګونو وزرونه وکړل.
د انساني ټولنی ، ټولپوهنې چې څونه، د څومره والي او څرنګوالي له مخې خپل پړاوونه وهل، په هماغه کچه انساني اند او ټولنیز شعور هم پراختیا مونده . د ساري په ډول لکه ټولنه چې د خپل ژوند په لومړني چاپېریال کې نوره نه ځاییده او وګړي په دې لټه کې شول، چې د ژوند لپاره یوه نوې جغرافیه ځانته ودانه کړي، دارنګه د فلسفی غېږه هم نوره تنګه شوه، بېلابېلو طبعي او ټولنیزو علومو ته پکې نور ځای نه وه، نو ورورو یې د فلسفی له غېږې لاره بېله او ځانته یې د خپلې پوهې ټاپو ورغوله .
دا چې فلسفه د علومو او پوهنو مور بللی کېږي، لامل یې همدا دی چې یو د بل پسې بېلابېل علمي بنسټونه ترې راووتل او ځانته یې خپله لاره وټاکله .
ولې د فلسفې بېلابېلو پوهنو یو ناڅاپه په یو مهال خپله تګلاره نده بېله کړې، بلکې کله به چې د یوې پوهنې ځانګې وغوړېدې، نو بیا به یې وزرې پرانستې او ځانته به یې د خپلې پوهې انګړ ا باد کړ.
هو دا چې ځنې علوم د مخه او ځنی علوم وروسته پېژندنل شویدي یو لامل یې څرنګوالی او څومره والې وه، ځنې یې څرګند او ځنې تت او نا څرګند وو، چې جلا والی اسانه کار نه وه ، دا ځکه چې د یو شمېر علومو د برید کرښې او پولې دومره نږدې وې، چې د ډلګیو مینځپانګه یې یو له بله په اسانه نشوه جلا کېدی، چې موږ ارواپوهنه، منطق پوهنه، ټولنپوهنه، تاریخپوهنه، ادب پوهنه، استتک پوهنه او په لسګونه نورې پوهنې د بېلګې په توګه یادولی شو.
د انسان پوهه بشپړه نه ده، خپل خپل حدود،کرښې اومحدودېتونه لري او د خپلې پوهې په وجودي رڼا کې د فکر کولو واک او ځواک لري.
فلسفه هم چې د بېلابېلو انسانانو د اندونو او نظرونو ټولګه ده، نو ځکه خو فلسفه د خپلې پوهنې په رڼا کې د طبیعت اړوند ، ټولنیز مسایل مطرح کوي او بیا ځواب ورته وایي.
په ټوله کې ټولې پوهنې، په دوه توکو ډېر ټینګار کوي، چې یوه برخه یې د ډلګیو ټولګه ده او بله برخه یې د قوانینو، چې موهمې او کوټلې پایلې خپلې کړي.
په فلسفي نظرونو او اندونو کې هم غوره برېښي، چې د توکو ډلبندي د ارزښتونو له مخې د بنې او مینځپانګې پر بنسټ رامینځته شي ، که څه هم فلسفه په لومړي سر کې ساده او د انسانانو له ټولنیز ژوند سره متناسبه وه، دساري په ډول هغه مهال چې انسان نړۍ ته سترګې پرانستی او ژبه یې په خبرو راغله، نو بیا یې د خپل چاپېریال د توکو په شتون فکر وکړ او له یو شمېر پوښتنو سره مخ شو،چې باید جوابونو ته لاره پرانیزي .
دلته دی چې فلسفه مینځته راغله او انسانانو ورورو د خپلې پوهې په رڼا کې هڅې او څېړنې پیل کړې و چې دغو څېړنو او څرګندونو په لومړي سر کې تخیلي بڼه درلوده، خود فلسفې د پیل او پای کرښې او بریدونه ناڅرګندوو، کوټلې ډلبندي یې نه درلوده، بلکې کوښښ کېده، چې ټول جهان وپېژني او د دی اند او فکر یو لامل دا وو، چې د دوئ پوهې د تجربې په رڼا کې وده نه وه کړې.
ولې کله چې د عملي ژوند له مخې انسانان له ټولنیزو واقعتونو سره مخامخ کېږي، نو پوښتنو ته لاره پرانېزی او نوي ځوابونه ورته مومي.
دلته نه یوازې نوې پوښتنې او نوي ځوابونه د تېر په پرتله پېچلي او پرمختللي ول، بلکې تېرې تېروتنې هم نورې د غبرګېدو نه وې او وړتیا یې هم نه درلوده . نو دلته دی چې د وخت اوښیار کسان او پوهان له نوي اند او فکر سره، د ټولنې دمعرفت ډګرته لاسرسی پیدا کوي او تر یوه بریده د فلسفې نظري او عملي اړخونه څېړي، چې په دې کار سره فلسفه یوه نوي پړاو ته ورپرانیزي او دا به پر ځای خبره وي، چې ووایو، د فلسفې د پوهې اصول، د نړۍ د پېژندنې او معرفت بنسټ ږدي.

## ښکلا او د فلسفې مینځپانګه

د ښکلا پېژندنې پوهه او یا د دې پوهې غېږه او لمنه، لکه د نورو پوهو او علومو په څېر دومره ګګره او پراخه ده، چې د هرې پوهې غېږي ته لاره پرانیزي.
ښکلا پېژندنه د هنري فلسفې د یوې څانګې او برخې په توګه، هغو ارزښتونو او مفهومونو سره، سرو کار لري چې د یوه هنرمند، د هنري پنځوونو، خوند او رنګ، د مانا او هنري څرنګوالي شننه پکې شوې وي.
لکه څرنګه چې فلسفې خپله مینځپانګه او خپله غېږه، د ښکلا په ښکلاییزو توکو ښکلې کړاورنګینه کړېده، دارنګه ،دغی پوهی هم له خپل پیدایښت نه تر دې مهاله د هرې پوهی د کورېه او بنسټ په توګه د خپل پیدایښت تاریخ خپل کړیدی ، خپله مینځپانګه لري، خپله موضوع اوله نورو پوهوسره پوهنیزه خپلوي ، تړاو او مناسبه وړتیا ... دمثال په ډول ، لکه د فلسفې ریښتنوالی، د فلسفې پیدایښت او ډول، د فلسفې وده او پرمختګ، د فلسفې ډلبندي، فلسفه د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

معاصرو علومو په رڼا کې ، د فلسفي چاپيريال، فلسفه او ټولنيز شعور، د فلسفي ځرنګوالي او څومره والی، د فلسفي بنه او مينځپانګه، د فلسفي ټولنيز ارزښت، د فلسفي هنر او ښکلاييز توکي ... دا ټول هغه څه دي چي د ټولني مادي او معنوي ارزښتونو ته لاره اواروي .
اوس موږ د فلسفي ارزښتونو ته په يادو توکو کې ، د ښکلا پيژندني ارزښت ته چي د هنري فلسفی د يوې څانګی په توګه د پام وړ دی تم کيږو.
ښکلا پيژندنه (استيتکس)، چي په انګليسي کې «aesthetics» وايي او کله د «esthetics» په بڼه هم ليکل کيږي. د هنري فلسفي يوه څانګه ده، چي په ښکلا، ذوق او خوند بحث کوي او هغه مفهومونه او ارزښتناک توکي راخلي، چي د يوه هنرمند د هنري پنځوونو د مانا او هنري ځرنګوالي شننه پکې کارول کيږي.
د ښکلا پيژندني په څمکه د انساني احساساتو ډيرې په زړه پورې تجربې او کله کله پيچلي مفهومونه او توکي شار بل کيږي، چي د فلسفي پوهان يې له پيړيو راهيسی بوخت ساتلی دي.
په دې مفهومونو کې ښکلا، بدرنګي، غوره ناک اغيز، کره کتنه اوشکلي هنرونه ، د انساني حسونو له لارې خوند اخستل، د شخصيتونو ښکلا او داسې نورتوکي شامل دي.
د استيتکس بريدنه او پولې ډيرې پراخې دي، چي نه يوازې د ښکلا ارزښت، ځرنګوالی او څومره والی په ځان کې ځايوي، بلکې د طبعي توکو پر وړاندې د انساني غبرګونونو ژبه هم تعريفوي او په دې توګه د ښکلا او بدرنګی ژبني توکي او مفهومونه څيړي .
د ښکلا او بدرنګي مفهومونه، که څه هم ډير ګونګ دي او نشي کولی په اغيزناکه توګه زموږ نړی په ښکلو او بدرنګو اړخونو سره ووېشي، ولی د درک وړ يې ګڼلی شو.
د بېلګې په توګه يو شی يو چاته ښکلی وي، خو بل ته به نه وي او دارنګه بدرنګي هم د ساري په توګه متناسبه ده اود يادولو وړ يې ګڼلی سو.
د فلسفي يو شمير پوهانو د تاريخ په اوږدو کې د ښکلا او بدرنګی په مفهومونو ډير ټينګار کړيدی، خو ګڼشمير په دې اند دي، چي ښکلا او بدرنګي د انساني ذوق، خوند اوان د کره کتني يوازېني رنګونه ندي ، بلکې هنر تر ښکلا او بدرنګي وراخوا نورې ځانګړني هم لري.
د بېلګې په توګه يوه تابلو کېدی شي زړه راښکوونکي وي او يا هم پاروونکي، يا کومه بله ځانګړنه ولري.
ولي د ښکلا ټکي ډير وخت د اسانی لپاره کارول کيږي، چي د بېلابېلو مثبتو احساساتو څرګندونه وکړي ... ډير فيلسوفان په دې اند دي، چي د استيتکس بريد بايد تر ښکلا او بدرنګی ډير پراخ وي ، نوځکه خوپه ټوله کې د استيتکس لپاره درې بېلابېلې څانګې غوره شويدي :
۱ـ لومړی د استيتکس هغه څانګه چي د ښکلا په ښکلاييزو توکو بحث کوي او په دې توګه د هنري اثارو کره کتني ته ژبه ورکوي.
۲ـ د استيتکس هغه څانګه، چي د انساني ذهن په هغو ځانګړتياوو بحث کوي، چي د انسان معنوي تجربه پکې ښکېل وي، لکه انساني غبرګون، احساسات او چار چلند.
۳ـ د استيتکس هغه څانګه، چي د فزيکي توکو او اشياوو په ظاهري څيرې او بڼې بحث کوي، له رښتيني نړۍ سره د انسان استيتکي چلن په استيتکي توکو او مقولو کې په عام ډول انعکاس مومي.
دغه استيتکي چلن د ټولنيزو تجربو له مخې د انسان استيتکي حساسيت، استيتکي اړتياوې او د نړۍ له توکو څخه استيتکي ارزيابي ده.
پروفيسور «اونرزيس» په دې اند دی، چي د انسان شعور د استيتکي توکو په څېر پوهه ترلاسه کوي.
استيتکه پوهه له زياتو مفاهيمو، ډلبند ېيو او توکو څخه ګټه اخلي. که موږ په استيتکي پوهه کې، بڼه او مينځپانګه په پام کې ونيسو نو بيا له نړۍ سره د انسان استيتکي چلن د پام وړ ګڼلی شو.
« الکساندر بومګارتن» په ۱۷۵۰ ز کال د استيتکس په نوم کتاب کې دشکل اوموضوع له مخې دغه کلمه وکاروله، چي وروسته لا وغوړېده، پراختيا او پرمختيا يې وموندله.
يو شمير څېړونکی د استيتک په نورو مقولو او توکو هم څېړنه کړېده، چي يو شمير يې داسې دي:
لومړی د استيتک هغه مقوله او مفهوم چي نسبي استقلال لري او پرته له دې نورې هغه ډول مقولې چي د رغښت، جوړښت او رغاونې structureوړتيا لري. د بېلګې په توګه د يوشمير ښکلاييزو توکو وړتيا د نورو توکو په پرتله غوره وي، نو موږ ته يې د ښکلا ارزښت زيات تر سترګو کيږي.
موږ د استيتکي پوهې په رڼا کې داسې توکي هم پيژندلی شو ، چي د بدرنګی ماهيت ترې څرګندېدی شي، چي ښکلا پيژندونکو پوهانو ورته د پرتليزې ښکلا اصطلاح کارولې ده.
د هرې پوهې په فلسفه کې لا داسې مقولې، مفهومونه او توکي شته چي تر دغه دمه يې يو شمير پوښتني بې ځوابه پاتې دي. د دغو پوهو په لړ کې يوه هم استيتکه پوهه ګڼلی شو، چي بايد د هر علم په توګه د توکو او مقولو يو نوملړ او ډلبندي ولري.
فيلسوفانوسره دهغې هم د فلسفي د تاريخ په رڼا کې د ښکلا پيژندني او استيتکس په اړه ګڼشمير تعريفونه وړاندې کړيدي، چي څو بېلګې يې داسې دي:


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

ښکلا پېژندنه او د ښکلا تعریف د استیتکی پوهي یوه بنسټیزه مساله ده او له لرغوني زماني نه د استیتکس esthetics علم تر ډېره بریده د ښکلا د علم پنوم یاد شویدی، ولې اوس هم کله ناکله دغه اصطلاح کارول کېږي.
ښایي یو لامل دا وي، چي د ښکلا پېژندني د عینیت توکي ذهن ته لاره پرانیزي او ښکلا د یوه شي د صفت په توګه د ښکلا احساس راپاروي او خپله ښکلا په موږ. مني.
ښایي نور ډېر لاملونه هم وي، خو که څومره لاملونه لیکه په لیکه کړو، خو ښایي تر دغه دمه دا ومنو، چي استیتکه پوهه د ښکلا تیوري نده، بلکي داسي پوهه یي ګڼلی شو، چي له ربښتني نړئ څخه د انسان استیتکس esthetics درک دی او په ځانګړي ډول بیا د استیتک علم په توګه ، تر ډېره بریده له ښکلا پرته له بل څه سره سرو کار نه لري.
ښکلا د استیتکس علم یوه ډېره موهمه مقوله ده او که چېري ښکلا په پام کي ونه نیسو او د مثال په ډول دغه مقوله ترې لرې کړو د استیتکي پوهي توکي نظم له لاسه ورکوي.

له بل پلوه د هنرودي او پرمختګ د ښکلا په بدنه کي دومره ریښي ځغلولي دي، چي د هنري پنځوني سرچینه یي ګڼلی شو. . . خوپه ټوله کي ښکلا د طبیعت همزولي ده او د هنر د پنځوني یوه لویه سرچینه طبیعت دی او انسان بیا د دغو ارزښتونواونوښتونو پېژندونکی دی.

## ښکلا پېژندنه د پېژندني وړ ده؟

په ټوله کي فلسفه د ټولنیزو او طبعي علومو د پېژندني وسیله ده. «اخوان الصفا» په دې ټینګار کوي، چي د فلسفي پیل له علومو سره مینه او دعلمي حقایقو پېژندنه ده.»[1]
فلسفي د خپل پیداینېت په شروع کي، چي انسان د خپلي پوهي له مخي غوښتل، نړئ وپېژني، نو ځکه خو فلسفه د ټولو علومو د پېژندلو یوه ډېرمنه سرچینه وبلل شوه، چي د بېلابېلو علومو پېژندلو ته لاره اواره کړه.
ښکلا پېژندنه د فلسفي د یوې برخي په توګه، چي کله وغوړېده، نو د فیلسوفانو پام یي ځانته راوګرځوه.
ډاکټر علي شریعتی، د فلسفي، علم او ایدیالوژي تر سرلیک لاندې د فلسفي په اړه کاږلي دي چي «فلسفه د فکر کولو یوه ستره ټولګه ده، چي په څرګندو او ناڅرګندو توکو بحث کوي ...[2]
د نوموړي د څرګندونو موخه ښایي دا وي، چي ټول علوم په یوه ټاکلي زمان کي د فلسفي له غېږي نه دي را ښېل شوي، بلکي په بېلابېلو وختونو کي، چي د یوه علم څرک لګېدلی، له اوږدو څېړنو وروسته یي بیا د خپلو معیارونو مقولو او توکو له مخي رغاوني ته لاره پرانستل شویده.
د علومو د پېژندلو او نه پېژندلو لاملونه ډېر دي چي په پرلپسي توګه، ځني علوم ژر او ځني وروسته د پوهي ډګر ته راوتلي دي.
خو د انسان رابطه ورسره شته او هغه وخت ورته یو شی ښکلی بریښي، چي له شي سره ذهني اړیکه ټینګه شي. که څه هم د ښکلا ارزونه یو ستونزمن کار دی، ولې دا څرګنده ده، چي د ښکلا پېژندني ارزښتونه په ټولنیزو مناسباتو کي تلپاتي ځای لري، ښکلا پېژندنه دومره ډېره د پام وړځکه ده ، لکه څرنګه چي په یوه ټولنه کي د یوې ټولني کلتوري ارزښتونه د پام وړ ګڼل کېږي.
کلتور د یوې ټولني د مادي او معنوي ارزښتونو مجموعي ته وایي ... نوځکه خوپه د ې بنسټ ، دارنګه په یوه ټولنه کي د پام وړ مادي او معنوي ارزښتونو ته ښکلا هم ویلی شو.
دمخه مو دې ټکي ته اشاره وکړه، چي کله له یوه ښکلي شي سره ذهني اړیکه ټینګه شي، نو ښکلا د انسان ذهن ته لاره پرانیزي. و لې له ذهني اړیکي سربېره ، بېروني اړیکه هم د ښکلا پېژندني لپاره ارزښتناکه ده.
ښکلا حسي او روحي فعالیت دی، چي د استیتکس esthetics علم لپاره یوه اساسي مساله ، پخپله ښکلا پېژندنه او د ښکلا تعریف دی او تر ډېره بریده څوځکه د استیتک علم، د ښکلا د علم په نوم یاد شویدی.
سره د دې چي پوهاند اونرزیس» پخپل کتاب کي کښلي دي، چي: «استیتک پوهه د ښکلا تیوري نه ده، بلکي داسي یوه پوهه ده، چي له واقعي نړئ څخه د انسان درک او په ځانګړي ډول د هنر دودېږ او پرمختګ د قوانینویوه پر مختللي تیوري ده...»[3] .
هېګل او یو شمېر نور هم ښکلا په روحي او حسي بڼه د مطلقو وسیلو څرګندونه ګڼي ... حسي او روحي فعالیت یي بولي، ولي له روحي او حسي فعالیت نه پرته، ښکلا د ذهني او بېروني نړئ یو بشپړ ټاکوونکی انځور او تعبیر دی.
نامتو فیلسوف «دوید ر» په دې ټینګار کوی او وایي ماته ټول هغه څه ښکلي دي، چي زما په وجود کي د ښکلا احساس راوپاروي. ډېرود ښکلا پېژندني د ماهیت تعریف کړیدی خو ټول بیا په یوه خوله ندي .
که څه هم ډېر ټولنیز علوم یو واحد کوټلی تعریف نه لري، دارنګه ښکلا پېژندنه هم داسی تعریف نه لري چي ووایو ۲+۲ مساوي څلور کېږي.
تولستوی د خپلي زماني یو هنرمند، متفکر او مبلغ انسان، د هنر، ښکلا او ادبیاتو په نړئ کي داسي نظرونه او اندونه وړاندی کړل، چي د نړئ ادب پوهانو او په ځانګړي ډول د روسي هېواد هنرمندانوته په زړه پورې ول، لکه څرنګه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په څیر و لولئ

،چي د استايوفسکي د هيومانيزم په رڼا کي، چي ډېره پاملرنه يې «انسان» ته وه وستايه، ولې تولستوی يې د هنري ښکلا پوهنې ، دمعاصري نړی د انسانيت يو سمبول ګاڼه .
که «دانته» د هنري ښکلا سمبوليکه ژبه انځورله، خو تولستوی د ښکلا فلسفه د هنر په کتار کي ودروله او د سپېڅلو حواسوپايله يې وګڼله ، په دې مانا ، يوازې يو شی، يو توکی او يو څيز د ښکلا سرچنه نه ده چي ووايو ښکلا ترې زېږېدلې ده.
نو ځکه خو نامتو فيلسوف کانت په دې اند دی چي انسان د ښکلا د ټاکلو وس، احساس او درک لري. د انسان احسا س، درک او تصور هغه مهال نېغه په نېغه خپله اغيزه ښېي، چي له يوه بهرني شي سره يې اړيکه ټينګه شي. مانا دا چي د ښکلا په پېژندنه کي ذهني عنصر ته زيات اهميت ورکول کېږي .
ولې يو شمېر فليلسوفان ، په د غه لړکې ارسطو« د ښکلا ماهيت د ژوندانه د توکو په ځنو حسي او ټاکلو صفاتو کی وينی....»[4]
د ارسطو افکار نه يوازې د استيتکس پوهانو لپاره د پام وړ دي، بلې د هنرمندانو لپاره هم په زړه پورې دي.
«ساتر» د ښکلا پېژندني په تړاو انګېري چي د هنري اثر پنځونه يوه ربښتني ښکلا ييزه کړنه ده او ښکلا د فلسفي مفاهيمو له مخي د پام وړ ګڼلی کېږي .
د هنري اثر دښکلا د پنځوني ربښتني سرچينه طبيعت او تولنيز مناسبات ګڼلی شو، خو د هنر مند تخيلي ځواک پکي ټاکونکی دی.
نتيجه دا ، ښکلا چي يوه عيني او ذهني بڼه لري ، په يوه ډول نه يوډول له واقعي حا لته اوځي او د خيا لي نړی لور ته لاره باسي .

---

[1]) د فلسفی تاريخ ۲ چاپ د آيتی ژباړه ۴ مخ
[2]) ډاکټر علي شريعتی ۲۸۳ مخ
۳) پروفيسور اونرزيس esthetics ۶ مخ
[4]) هماغه اثر ۸ مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ